**د لوګر په پل علم ښار کې د موټر بم برید په تړاو د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د خواخوږۍ پیغام!**




په ډېرې خواشینۍ سره د لوګر په پل علم ښار موټر بم برید کې، چې د هېواد دوښمنانو له لوري ترسره شو او له امله یې زیات شمېر زدکړیالان، مسافرین، ولسي وګړي او د لوګر د شهیدانو او معلولینو چارو آمریت د کارکوونکي په ګډون پکې ګڼ شمېر هېوادوال شهیدان او ټپیان شول.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت رهبري هیئت ددې خونړۍ پیښې له قربانیانو سره د خواخوږۍ ترڅنګ، له الله تعالی څخه شهیدانو ته د برین جنت او ټپیانو لپاره د بیړنۍ روغتیا هیله کوي.

وزارت ژمن دی، چې د یادې ناوړه پیښې شهیدانو ورثې او ټپیانو ستونزو ته د قانون په چوکاټ کې پر وخت رسیدنه وکړي او د ژوند په ټولو برخو کې یې لاسنیوی وکړي.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مشرتابه په دې اند دی؛ چې ترهګریزې کړۍ په دې ډول ناوړه بریدونو سره نه شي کولی، چې خپلې شومې موخې ترلاسه کړي او د سولې په هکله د افغانستان د خلکو غوښتنو او ارادې ته زیان ورسوي.

دغه وزارت د دولت له ټولو مخالفینو غواړي، چې د سولې په تړاو له رامنځته شوي فرصت څخه ګټه واخلي او خپلې غوښتنې په سولییز ډول مطرح او جنګ ته د پای ټکی کېږدي.